

# سميع الدين « افغاني »

د نشرنیټه : 3 اپریل 2026 میلادی

# حيران يم

ځينو، ځينو انسانانـــو تـــه حـــيران يم
چې شکبر يـــې پـــه ظاهره او پنهان يم
پـه ظاهر به د وروری نـــه درتـــه وايې
خود زړ ه پـــه ارا دو يې بدګمـــان يم

چې ته نه يـې بيا د بـل سره يـــې مخ شي
ورته وايې ز ه دې دوست په هر ميدان يم
خپلې ګټې به د بـــل په زيان کې ګوري
زه دا مکر، دوه مخی ته يې حيران يم

په هر لـــوري د نفاق اورونـــه بل کړي
پدې کار کې باوري پرې د شيطان يم
سکني خواخوږ ي، ورونه سره بدکړي
بيا په هر يو پاچاهي کړي وايې خان يم

که د بل ســره خاين شـــي ګناه ګار شی
خو د دين په نوم به څنګه مسلمان يم
د اخــلاص او د راستي ښکلي دنيا ده
پرې زوريږم غلطی تـــه يې حيران يم

صداقت او ورورولی کې سرلوړي ده
د دوه مخـو په دوستي تل پښيمان يم
***
سميع الدين « افغاني »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org